Para - II

**سوال نمبر ۵:-**

د خوشحال خان بابا د شاعرۍ ښېګڼې ولیکئ.
د قلم خوځښت ته او سپارئ.

**جواب**

**خوشحال خان خټک:**

خوشحال خان خټک یا خوشحال بابا
د پښتو ادب کښې د هغو لویو لویو غوره شخصیت
دے. خوشحال بابا شاعر هم وو، ادیب هم وو، د رباب
و ستار سره مینه هم وه او لوړی ډال و جنګ سره ئې
دوستي هم وه. خوشحال بابا دے سره سره د ښکار شوقي هم وو.
خوشحال بابا د پښتو ژبې د شعر و ادب کے داسې ځائے
نشته چې خوشحال بابا پکښې کار نه وئې کړے.

**د زیږیدنې نیټه:**

خوشحال بابا د "نور الدین اکبر" په زمانه
کښې د شهباز خان کره په کال "۱۰۲۲ هجري" کښې زیږیدلے
وو. شهباز خان د مغلو له طرفه د خټکو خان وو او لو
لو جنګجو سړی وو. د خوشحال بابا د لور په سوریې کښې
پیدا شو او لوئ شو. خو دے سره سره خوشحال بابا لوئ
ادیب، شاعر، عالم هم وو. د خوشحال بابا علم زیات
تر د ذاتي مطالعې، او مشاهدې نه حاصل شوے وو.

اکثر که درس وتدریس کښې سره مو ده ضرور ناست وو خو د ښکار شوق سټ ته لیرې پا نه ښو دو.

## دا شاعرۍ شماره اهم خونه:

دخوشحال خان خټک د شاعرۍ ښکاره اړخونه څلور دي. لکه:

1. قومي یا وطني شاعري
2. عشقیه شاعري
3. رزمیه شاعري
4. اخلاقي شاعري

## قومي یا وطني شاعري:

دخوشحال بابا وطني او قامي شاعري د هغه د شعر و شاعرۍ لو مو هم حصه ده. ده هغه ده ادب دے برخه کښې لو خودا پښتنو اود هغلو تاریخ دے لویل خو ته ده پښتنو د معاشرتي حالاتو بیان او تبصره ده. خوشحال خان بابا داخپل قوم سره مینه محبت، حب الوطني، آزادي او خوداري دپه اخپل کلام کښې ظاهره کړې ده. لاندې د خوشحال بابا د قامي او وطني شاعرۍ نه سو اشعار پیش کړے شوي.

ـــ تیراه مې ولیده را علم تر سوات
پښتون مې ولیدو لوی لوی ذات

١

ے عقل و همت مې د چا و نه لیدو
په بیرته دا غلم ناست یمه لا مات

تشریح:

په دې شعر کښې خوشحال بابا د پښتنو د نه اتفاقۍ باره کښې خبره کړې چې مه د پښتنو د تیرانه دښنې تر سواته لوی لوی قامونه ولیدو. خو دوی کښې مې اتفاق و نه لیدو. پښتنه د آزادۍ نه غافله دي او اخپل منز کښې جنګیګي او مه چې د پښتنو د حالات وکتو نه زړه مې مات شو

لوبل ځائې وائي چه

ے ټن به درست د هندوستان دولت د دوي د و
پښتانه که کم همت نه وې جهال

تشریح:

په دې شعر کښې هم خوشحال بابا په پښتون قام باندې تنقید کړې دې. بابا وائي که د پښتنه همت او کړي او یو ځائې شي نو د هندوستان بادشاهي به د دوي په لاس شي او د مغلو به اخپل غلامان کړي

خوشحال بابا یو بل ځائې هم د پښتنو په اتفاق باندې تبصره کړې ده. بابا فرمائي چې

Scanned with CamScanner

ے هره چاره د پښتون تر مغل ښه دا
اتفاق د رسره نشته ډېر ارمان دے
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

تشریح:

خوشحال خان خټک په دے شعر کښې فرمائي چې پښتون د مغلو د مقابلے خلق دے خو افسوس ده دے چې دې کښې اتفاق نشته او خواره واره پراته دي- که چرې دې را پاسېږو او یو ځائې شو نو خوشحال خان ماته چرې به بیان ځوان شي یعني ده هغه مات زړه به بیا روڼ شي-

عشقیه شاعري:

خوشحال بابا په افیل شاعرې کښې ده عشقیه شاعرې مجموعه هم شته دے - د هغه د عشقیه شاعرې خصوصیت دا دے چې هغه د محبوب سره د عشق په اظهار کښې هم افیل ځان او چت ساتي. د هغه د عشقیه کلام څو شعرونه دي چې

ے چې ئې زان سره آشنا کړم
له هر چه ئې زه په شاکړم

تشریح:

خوشحال بابا ده اخپل محبوب باره کښې لیکي
چې زه کله د محبوب په عشق کښې ګرفتار شوم نو
ما ته د خپل محبوب نه علاوه بل څوک نه ښکاري دو-
زمو د محبوب حسن دومره زیات دی چې د هغې مخې ته
بل هر څه کم ترود-

لوبل ځائي بابا د محبوب سره د عشق اظهار داسې کوي-

زلفې چې وال وال کښې لو پار لره کنه
لورېچې تیوې شي لو غوزار لره کنه
سله راته وائي چې په خلقو نظر مکړه
شرګجه چې پیرادې لو دیدار لره کنه

تشریح:

په دې شعر کښې خوشحال بابا د محبوب د حسن
په تعاریف کښې وائي چې زمو محبوب کله زلفې کولو
کښې او خپل زان خپل عاشق ده پاره تیار کړي لو مه د
خپل محبوب د دیدار نه مه ~~منعه~~ معنع اکاوئي- ځکه چې
زمه محبوب خو زمه د پاره زان تیار کړے دے کله خدای
چې خلق لوره د جنګ د پاره تیارئي د هغه سے زمه
محبوب زمه د پاره زان تیار کړے چې زه د هغې
د پاره وکړم-

Scanned with CamScanner

## رزمیه شاعري:

ځنګه چي خوشحال بابا خټک کلام کښي رزم، عشق، مذهبي او وطني شاعري برخه ده. دهغه سي خوشحال بابا د جنګ، لوړي حال ذکر هم شته - چونکه خوشحال بابا ربه نیکه خان وه او د لوړي په سوري کښي پیدا شوي ده او لوی شوي لو دهغه رنګ هغه دخپل کلام برخه هم جوړه کړے دا. خوشحال بابا فرمائي -

- له لړه اسه ئي ما زغره په ګلار نه دي
چه چي مه سره سر داخلي په ټنګ دے

**تشریح:**

په دے شعر کښي خوشحال بابا دخپلي بهادري خبره کړي - خوشحال بابا وائي چه چي زړه اوسه پوري چه سره جنګ کړے دے هغه ښه وانس او بدلي نه دي زمه سره جنګړه نه ښي هغه ورک شوي دي او دهغې طاقت ختم شوي دے -

یو بل ځائي بابا فرمائي:

- پښتانه له بل خه فکر کړي نه پوهه دي
بے له لوړي خلاصي نشته په بل کار

**تشریح:**

په دے شعر کښي خوشحال بابا د پښتو تنقید

هم کړې او جنګ کولو بلد هم ورکړې ده - خوشحال بابا پښتون قوم ته وائي چې که تاسو د سوچ لرې چې بغیر د جنګ به خپل حق حاصل کړې لو تاسو نا پوهه یې ځکه چې بغیر د جنګ نه جه ته څه نه حاصل کیږي

## اخلاقي شاعري:

د خوشحال بابا اخلاقي شاعري ډېره جامع شاعري ده - اخلاقي شاعرۍ کښې خوشحال بابا ده اخلاقیاتو په هر اړخ خیال کړې دے - دو خوشحال په اخلاقي شاعرۍ ایلکي شوي څو شعر دهغه دي:

چې دروغ ترخولې وباسي کله خوله ده
چې رښتیا ترخولې وباسي خوله هغه

## تشریح:

په دے شعر کښې خوشحال بابا په اخلاقیاتو خبرې کړې چې کم کسري دروغ وائي هغه بازرني څوک اعتبار نه کوي خوشحال بابا وائي چې کم خلقو دروغ ویلو عادت وي لو ده هغه په رښتیا وایلو هم څوک بیا یقین نه کوي - یعنې خوشحال بابا د دروغ وایلو نه منعه او د رښتیا وایلو ترغیب ورکړي دے -

پوهل څائي که خوشحال بابا اخپل اظهار په ده سے

الفاظو کښي کړې چې:

۲ـ چې شکر نه کړي ګلله نعمت کړي
چې صبر نه کړي ګلله همت کړي

تشریح:

په دې شعر کښي خوشحال بابا د اخلاقو یو بل اړخ پابندۍ ته نظر اچولی دی چې کوم خلق شکر نه اداسي نو الله تعالی هغه د خپل نعمت نه محروم کښي. د هغه رنګه چې کوم خلق په مصیبتونو صبر نه کوي نو هغه کښي د حالاتو برداشت کولو همت نه وي.

یو بل ځائي د صبر تلقین په داسي الفاظو کښي کړې:

۳ـ که کوشش که په اخلاص زه ئې زامن یم
که ګامران په خپل مراد نه شي سر د

تشریح:

په دې شعر کښي خوشحال بابا د صبر کولو او د ښه اخلاص وینه کښي چې که انسان هر کار ده پاره په صبر او اخلاص سره کوشش کوئي نو زه اې زمارې افلم چې هغه کس به خامخه کامیاب کیږي.

خلاصه:

خوشحال بابا د پښتون قوم یو لوی خزانه ده خوشحال بابا د خپل ټولې سره د پښتون قام پالنه کړې او خپل شعر وادب په ذریع ائي د خپل قام سره

حتا خپله مینه، حب الوطنی او دهغې اصلاح کړې ده او
همیشه د پښتنو په اتفاق باندې زور کړے۔

## سوال نمبر 3

حمزه بابا د شاعرۍ جامع جائزه واخلئ۔

### جواب:

### حمزه خان بابا:

امیر حمزه خان شنواری د ملک میرباز خان کره د لوارګی په مقام د دسمبر په میاشت کال ۱۹۰۷ عیسوی کښې زیږیدلے دے۔ تعلیم ئې نیمګړے پریښے دے۔

### ژوند او شاعري:

حمزه بابا د پنځم جماعت نه شعر و شاعري شروع کړې وه۔ اول کښې به ئې د اردو ژبه کښې شاعري کوله، خو په کال ۱۹۳۰ کښې د خپل پلار د مرګ نه پس سید عبدالستار شاه چشتي لاس نیوه او کړه او د هغه په وینا ئې د پښتو ژبه شاعري شروع کړه۔ حمزه بابا د شاعرۍ سره سره پښتو ادب کښې هم ډیر کار وکو۔ حمزه بابا لوئې ډیر لوی شاعر، افسانه نګار، ډرامه نګار، نقاد، ناول لیکونکے، عالم او صوفي وو۔ په شاعرۍ کښې هغه کښې مشهور اصناف جیبړلي۔ په ټولو کښې خالصه کار په غزل ګوټ کښې دے چې د کوم په وجه هغه ته بابائے غزل هم وائي۔

## تصنیفات:

حمزه بابا د ډیرو تصنیفاتو مصنف دے چې
څه د نثر دي او څه د شاعرۍ. په شاعرۍ کښې ئې
غزلونه ئې دوه مبې شعري تصنیف دے له دي
نه علاوه:

یون
بهیر
سپرلي په آئینه کښې
د زړه آواز
پرې پاوونې . د هغه شاعرۍ مجموعه ده.

## د شاعرۍ اړخونه:

د غزل بابا د شاعرۍ بنتکاره اړخونه
دري دي لکه:

1. صوفیانه شاعري
2. په شاعرۍ کښې پښتون ولي
3. عشقیه شاعري

## صوفیانه شاعري:

حمزه بابا د تصوف کښې د وحدت الوجود
قائل دے. د حمزه بابا فلسفه د تصوف فلسفه ده او زما پوښتنې
فلسفه نه ده. د هغه تصوف د پوه سلطان اوډ او پښتون

تصوف دے. حمزه بابا د وحدت الوجود اظهار په دې غزل کوي۔

ے صه او یار که مخامخ کړي څه حاصل دے
ائینه به ائینې ته مقابل کړه

تشریح:

په دے شعر کښې غزل بابا د عقیده وحدت الوجود اظهار کوي۔ حمزه بابا وائي چې که زه سه یار ته مخامخ کړی یم سه چې الله تعالی ته مخامخ کښې لو داسې ده چې لکه زه په آئینه کښې ګورم۔ حمزه بابا د قدرت په هر نظاره کښې ورته الله تعالی ښکاري ځکه دے چې هغه ته ژان کښې هم د الله تعالی د ذات ښکار ښکاري۔

ے صات ني هر شے لکه د زړه ښکاري
شات د جهان زاهده څه ښکاري

تشریح:

په دے شعر کښې شاعر فرمائي چې صات خود ده جهان ~~سه~~ لکه د ه آئینه په رنګ صافه ښکاري. شاعر وائي چې څنګه د انسان په زړه کښې د الله تعالی مینه راشي لو هغه زړه هر څه نه ~~صفا~~ صاف په یار شي او بیا هغه ته د دنیا او د دے هر څه هم یار ښکي۔

په ټول غزل کښې حمزه بابا د تصوف د ښاعرۍ اظهار په داسې الفاظو کښې کړی دی۔

راشه که ځان وینې اشنا د حمزه مخ اووینه
اوره دې پورته کړه حجاب چې زه حمزه اووینه

**تشریح:**

په دې شعر کې حمزه بابا د عقیدې وحدت الوجود ډیر ښکاره اظهار کړی دی. حمزه بابا وائي چې د الله تعالی ذات په دې دنیا کښې هر ځائي دی ده دې دنیا هر څه موږ ته د الله د ذات ګواهي ورکوي او په دې هر څه کښې الله تعالی داخل بلکه سره د محبت ~~تجلي~~ ښتي هم دي.

## حمزه بابا شاعري کښې پښتون ولي:

حمزه بابا ښکاره چې په تصوف کښې د کمال درجې شاعري کړې ده دغه سې حمزه بابا پښتون قام او پښتو لي ستائنه کړې ده. حمزه بابا لوی پښتون دوست او په پښتو مئین شاعر دی. حمزه بابا فرمائي:

چه کوز ورته لیمه کړه زما سر نه ښېښېږه
شاید چې په الفت کښې هم افغان یاتې کیږم

**تشریح:**

حمزه بابا په دې شعر کښې په عشق کښې هم پښتون ولي ظاهره کړي ده. په عشق کښې چې ښکلي محبوب مینه کښې سره تېښول د عاشق د پاره غلط خبره ده دغه سې ډیر شاعرانو هم په خپل شاعرۍ کښې د سر ټیټولو ذکر

کړي دے خو حمزه بابا وائي چې زه پښتون يم او زه م
سر محبوب مخې ته هم زه نه تښتوم ۔

لوبل ځائي غزل بابا پښتون دلي باره کښې
اظهار په دے ډول کښې:

وائي اغيار چې د دوزخ ژبه ده
زۀ به جنت ته د پښتو سره ځم

**تشريح:**

څنګه چې ژبه خلق وائي پښتون کافر دي او دوزخ ته ځي لو حمزه د هغې جواب په دے شعر سره کوئي چې که د هر چه د خيال د چې پښتو نه کافر دي خو وئي څرنګه به جنت هم د پښتو سره زو

لوبل شعر کښې غزل بابا وائي

ما حمزه له پشتو بې باده خادنړه
په مينا غلي پيمانه کښې د افغان را

**تشريح:**

حمزه فرمائي چې اے افرادا مله پشتو بې شراب د افغان په کاسه کښې راکه يعنې هغه پښتو لولي چې به دومره ډيره واچې وائي چې خدايا امارت اسلام تعليمات په پښتو کښې راکه يعنې هغه د اسلام زده کولو ډيره پښتون طبيعت ته ډير مناسب کښې ۔

Scanned with CamScanner

ے دا امید می د پښتون اشنا به ښه دو
چې صلیعه نې له حجرې تلې کړے

تشریح:

په دے شعر کښې حمزه بابا د پښتون قام د عزت د ننګ، د پښتو ولي، د هغه د انفرادي او اجتماعي ژوند مرکز ته اشاره کړي ده حمزه بابا وائي پښتونه ډير صلیعه دوست خلق دي او د خپل صلیعه ډير عزت کوئي. وائي زه دا یقین رنګ کړي چې ما ته څوک اوائي چې پښتون زما صلیعه شا نه ده کړے یعنی خپل حجره کښې اے زما قدر نه دے کړے ذکر چې پښتونه په خپله حجره کښې د خپل دښمن قدر هم کوئي.

## عشقیه شاعري۔

حمزه بابا اخپل عشقیه شاعري لوخاص حیثیت لري۔ حمزه بابا عشقیه شاعري کښې زړه د موضوعاتو له لوئي رنګ ورکړي دي۔ د هغه عشقیه شاعري کښې جرت او روایت څنګ په څنګ دي. از پښتو ژبه له چې دي شاعري کړه، خاکول، حسن، ورکړي ده هغه مثال نه میلاو یکي۔ د غزل بابا د عشقیه شاعري څه شعر نه دي چې:

ے شو کیدې د خپل زنګون د پاسه خوندکه
خوده خوب د پاره سته زنګون پکار دی

تشریح:

په دې شعر کښې حمزه بابا د خپل محبوب سره مخاطب دے چې ستا په یاد کښې مې لګوله شپې شوګیر کړې دي ما به په خپل زنګون سر کېښودو او ستا مینې یادونه مې کول. خو اوس چې ته راسره ئې نو اوس به زه ستا په زنګون سر ږدم او په خوندور خوب به کوم. زما د خوب به ستا د زنګون په وجه ډیر خاست دي.

لومړی ځائي کښې حمزه بابا په دې ډول خبره کړې:

اے یاره چې اسمان ته دې پاڼه ګوري
سترګې دې زما په مخ کښې څه ګوري
غل د محبت غلطي د ے نه شي
څوک چې په محفل کښې چه نه ګوري

تشریح:

دهغه شعر کښې حمزه بابا په محفل کښې ناست د خپل محبوب سره د سترګو د جنګ خبره کښې. غزل بابا وائي چې ته کله په محفل کښې ناسته ئې او زما مخ ته په کتو ئې او ته نظر دے خپل پلال که زړه چې په محفل کښې ناست د نور خلق به خبر شي زموږ د سترګو په جنګ ځکه چې په محفل کښې د محبت کوټکي بازي د ~~...~~ لګول محفل نه دي.

## خلاصه:

اخیره دا چې حمزه بابا لوی شاعر او ادیب
وو د هغه د پښتو نثر د پېره او شاعرۍ د پېره خدمت
لازوال دی۔ هغه چې خپل کلام د دې سو مره خوګاله
پښتو ژبه له ورکړي ده هغه د پېره غوره ده۔ هغه
په تصوف کښې اعلی درجه ته رسېدلی وو او د پښتو
لوئي هم پالې وو په غزل ګوئي کښې هغه د بابا د
غزل یا غزل بابا په نوم یادیږي: د هغه مرګ د پښتو
ادب لوی لپاره نقصان وو۔

## سوال نمبر ۲

رحمان بابا پوا ولسی شاعر دے د رحمان دا شاعری بنفکارہ اړخونه راباندې څرګند کړئ۔

## جواب

### تعارف:


رحمان بابا د پښتو د اب لوی شاعر دے۔ رحمان بابا کلام ډیر خائسته، مؤثر او ساده دے د دے په وجه دهغه شاعری دهر عمر یعنی زاړه، ځوانان، ماشومان او زنانه ټول ئې خوښوي۔ رحمان بابا اخپل کلام کښې داد ب هر اړخ ته ئې بنفکاره کوي هغه په اخپله شاعری کښې دپښتون اولس هر اړخ څنګه ښکاره کړے دے۔ دهغه په اخپل کلام کښې صوفیانه، عشقیه او اخلاقي شاعری ډیره موثره ده۔

### رحمان بابا ذاتي معلومات:

زیږیدو نیټه : بهادر کلے پیښاور
زیږیدو ځای : 1042 هجری
د مرګ نیټه : 1118 هجری
مزار / زیارت : هزارخوانۍ، پیښاور

### د شاعری بنفکاره اړخونه:

د رحمان بابا د شاعری بنفکاره اړخونه دا دي




## صوفیانه شاعري:

رحمان بابا د پښتو ژبې یو ډیر لوی شاعر دے۔ دهغه په شاعرۍ کښې صوفیانه کلام یو ډیره لویه برخه ده۔ هغه د تصوف یو ډیر ستر مقام ته رسیدلے وو۔ هغه د تصوف په برخه باندې چې کومه زیږه اچولے ده هغه ډیر خاسته، نرمه، ساده او موثره ده۔ رحمان بابا ځکه خو د صوفیاؤ سردار گنړلے شي۔ دهغه شاعري دهر عمر کس په زړه باندې رازي۔ رحمان بابا فرمائي چې

که صورت د محمد نه وے پیدا
پیدا کړې به خدای نه وه دنیا

## تشریح

په دے شعر کښې رحمان بابا فرمائي چې د دنیا الله تعالی د اخپل محبوب دپاره پیدا کړے ده۔ رحمان بابا د الله رب ذوالجلال د اخپل محبوب باره کښې ذکر کړے دے

چې الله تعالیٰ د خپل محبوب یعنې محمد رسول الله ﷺ د پاره د ټول جهان لوډے هر څه موجود کړي دي -

په بل ځای کښې وائي چې

عشق په هسې رنګ مقام بازي قائم کړم
چې وصال دے که بېلتون دے نۀ پوهېږم

**تشریح**

په دے شعر کښې رحمان بابا د عشقِ حقیقي باره کښې بیان کړے دے - رحمان بابا عشق حقیقي داسې مقام ته رسیدلی وو چې هغه د خپل محبوب د وصال او هجران کښې فرق نۀ شو محسوس سوالے - یعنې هغه هر وخت د خپل محبوب سره په دیدار وو او په هر ځای به ورته اخپل محبوب ښکاریدو -

په بل شعر کښې رحمان بابا د خپل صوفیانه انداز بیان په داسے الفاظو کښې کړے دے چې ،

محب نۀ دے که دا درست جهان زما شي
چې باچاه د درست جهان مې دې مونږ لے

## تشریح:

رحمان بابا د حقیقي عشق بیان په دې توګه کوي چې د جهان بادشاه زما محبوب دی یعنې هغه الله تعالی ته ډیر محبوب وائي. وائي زما محبوب چې دی هغه د جهان بادشاه دی او کله چې هغه ډیر ذات د هغه په راضا کړي دی نو هغه به د جهان ټول زما کړي. هغه په دې شعر کښې د قرآن هغه ایت ته اشاره ده. قوم کښې چې الله فرمائي

## مفهوم:

چې که انسان ته د الله په رضا ذات رضا کړو نو الله به هغه کښې چې څه ستا رضا ده۔

## اخلاقي شاعري:

پښتو ادب کښې کښې د اخلاقي شاعري لړخه د ډیر شاعرانو شته خو د اخلاقي شاعري ته چې څنګه شکله رحمان بابا ورکړې د هغې مثال په درست جهان کښې نشته. رحمان بابا په ډیر کلام کښې داسې اشعر ویلي دي چې هغه د نصیحت نه ډک دي او د عامو خلقو په ژبه د متلونو په ډول پراته دي. څنګه چې رحمان بابا وائي

ډیر پردی به کښې معلوم شي اے رحمان
کله کله د غمونو باران بنده وي

تشریح:

په دې شعر کښې رحمان بابا لو حقیقت بیان کړے دے او پښتو ته ئې تسلي هم ورکړے ده۔ رحمان بابا وائي چې د غمونو نه مه پریشانه کیږې د غمونو مونږ ته د خلقو حقیقت ښکاره کوي۔ مونږ ته معلوم شي چې په سخت وخت کښې سوک زمونږ سره وئي او څوک زمونږ نه مخ اړوي

لومړی شعر کښې بابا فرمائي چې:

ے هر سړے تر خپل مطلبه پورې یار دې
ما د خدای سیاره یار سړے نه دې

تشریح:

په دې شعر کښې هم رحمان بابا لو حقیقت بیان کړے دے۔ بابا ارشاد فرمائي چې نن سبا خلقو کښې اخلاص نشته د دې یارې دوستي د مطلب سره تعلق لري۔ که ~~[illegible]~~ لوکس د بل نه څه غواړي یا د هغه سره ئې څه کار وي نو هغه به دے د سړي سره یارې دوستي کوي خو چې کله د هغه مطلب پوره شي نو بیا هغه یارې دوستي هم ختمه شي۔

لومړی خای کښې د بابا شعر دے دې چې

Scanned with CamScanner

بے علم ورکړي هيڅ عمل ورباندي نه کړے
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړے

## تشريح:

رحمان بابا وائي چې کم سړے علم حاصل کړي خو په خپل علم باندې عمل نه کوي نو دهغه علم هسې الېن دے. دهغه مثال ئې د ماشوم سره ورکړے دے چې څنګه لو ماشوم نه څوک کتاب ورکړي لو هغه ماشوم کتاب سره لوبې کوي ځکه چې هغه خو کتاب لوستلې نه شي لو د هغه سې لو عالم کړه په خپل علم عمل نه کوي لو مطلب چې عالم نه لو نه پوهه ماشوم دے چې هيڅ نه ورزي

## عشقيه شاعري:

رحمان بابا ته عشق، محبت، نازونياز جام باندې د بدر کمال حاصل وو. هغه عشقيه شاعري د مجازي نه شروع کوئي او په حقيقي ايے ختم وي ځکه خو د هغه شاعري اکثر خلق خوښوي. بابا په خپل کلام کښې د مبنى محبت، سوز و ساز، درد، وفا، هجر او وصال په داسې ساده ژبه کښې بيان کړے دي چې د لوستونکي او اورېدونکي په زړه د سے اثر کوي چې هغې ورته بغير د متاثره کېدو نه پېتي کېږي. د هغه د کلام سو خوندار او شعر لو دي چې

ملنګ سړي هم باچاهي په لاس کښې مه راولي
هسې نه لټول جهان لوټې کړمه د یار له سترګو

## تشریح:

رحمان بابا وائي چې زما یار ډېر خائسته دے د هغه سترګې ډېر ښېرنه ښکلې دي وائي مه پرځه د خپل یار د سترګو نه قربان کړې دي وائي که ما له چه د درست جهان باچاهي هم ورکړه لو بیا هغه هم د خپل یار د نه قربان کړې دي

او بل ځائې رحمان بابا فرمائي:

چا چې درد د عشق پیدا نه وي
نه پوهیږي په خبرو د رحمان

## تشریح:

رحمان بابا خپل کلام کښې د درد، وصال ذکر ډېر کړے دے ذکر خو هغه په دے شعر کښې وائي چې کوم سړي عشق نه وي کړې او بیا ورته درد نه وي ملو شوے یعنې د محبوب وصال اے نه وي پېړلے لو هغه سړے د رحمان بابا کلام باندے نه شي پوهیدې ځکه چې تر سو لو کس باندې هغه حالات لوی را غلې لو هغه د بل کس درد نه شي محسوس کولے

پوښتنه: څای کښې واڅې:

سے ستا په مخ کښې چې حساب د ۵ رحمان نشته
زړه مې سره مجال د ۵ صبر نشته

تشریح:

په دې شعر کښې رحمان د خپل محبوب د حسن ذکر کوي او وائي چې زما محبوب د ومره خائسته دے چې د هغه په رنګ حسن په څول رحمان کښې نشته دے. رحمان بابا وائي ستا د ۵ دے حسن زه د لیواني په څه څکله زه ته سره پوهېږم څای کیدل غوارم. زه ستا نه بغیر اوس نشم پاتې کیدے زما صبر بټول تمام شوی دے.

خلاصه:

رحمان بابا د پښتو ژبه یو ډیر غټ شاعر دے نو څنه پوهانو په نظر کښې د هغه په رنګه بل شاعر د پښتو په ژبه کښې نشته. هغه خپل کلام کښې د پښتو ادب په ډیر اړخونو زړه اچولې د ۵ هغه د شاعرۍ ښکاره اړخونو کښې حقیقي شاعري، اخلاقي شاعري او د عشقیه شاعرۍ لویو پیرخه پرته د ۵ -

## سوال نمبر 7

**اولسي ادب څه ته وائي د اولسي ادب په اصنافو رڼا واچوئ.**

## جواب

### تعارف:


اولسي ادب د پښتو ژبې لوی ډېره غټه برخه لري د دې د اغاز پته چا ته هم نشته او نه د اصل لیکوال چا ته معلوم دي لیه دې څنګه کښې د پښتو ادب ډېر زیات اصناف راغلي دي کوم چې د اول نه د پښتو ژبه حصه ده په دې اصنافو کښې نثري او شاعري دواړو حصو ته برخه ده.


### اولسي ادب:

اولسي ادب د پښتو ژبه هغه ادب ته وائی چې د چا لیکوال نه دی معلوم خود په نسل نه نسل ته سینه په سینه منتقل شوی ده.

د پښتو ژبه د ادب آغاز هم د شاعرۍ نه شوی دے او دا خبره لیول تحقیق کار منی چې د هرې ژبې د ادب آغاز د نظم نه کیګی. اولسی ادب ابتدا د پښتو د سندرو نه شوی دي چې په دا ده خادی ځ کښې به د پښتو په هجره او کور کښې ویلې کیدلې.

## د اولسي ادب اصناف:






Scanned with CamScanner